پوهنمل حاجی محمد نوزادی
۲۰۱۰/۰۷/۳۰م

# د افغانستان کانونه: ګیډۍ ته به خپل پوست بلاشی

دا وطن دکومی پیغلی تور اوربل دی      چی باد لا وهلې نه وی تارومار شی

دلومړۍ برخی په تړاو:

په افغانستان کی د شوروی ماهیرانو په مرسته د جیولوجیکی نقشی اخیستلو (نقشه برداری) او کان پلټنی ډیر کارونه د شپیتمو او اویایمو کلنو په ترڅ کی ترسره شویدی، نه په اتیایمو کلنو کی چی د پنتاګون راپور یی یادوونه کوی. دشورویانو ددغه وخت د ترسره شوو کارونو په سلګونو پنډ پنډ راپورونه او بیشمیره اړوند علمی اسناد په انګریزی او روسی ژبو اماده او د ریاست په ارشیف کی دکتالوګ سره ساتل کیدل چی یوه برخه یی د تنظیمی ناورین پرمهال د اور لمبو وخوړل او د نیکه مرغه زیات شمیر یی د وطنپالو انجیرانو او نورو کارکوونکو په مټ د ډیرو ستونزو په ګاللو سره و ژغورل شوه او په خیرخانه مینه کی چی د ریاست دتخنیکی خدمتونو څانګه او هغه وخت دامن سیمه وه په خوندی ځایونو کی ځای پرځای شوه. البته ددی جریان قصه د اوریدلو وړ ده خوداچی اوږده او ددی لیکنی له زغم نه بهر ده ځکه نو ور څخه تیریږم . **لدی نه پرته دنوموړو ټولو راپورونو اواسنادو یوه یوه کاپی په مسکو او تاشکند کی هم ساتل کیده چی تر دا اوسه پوری هلته شته . داخبره پدی خاطر په ټینګارسره د یادولو وړ بولم چی افغان اوسنی چارواکی باید ورباندی خبر اوسی څو د اړتیا پرمهال یی هغه برخه چی تنظیمی چپاول وهلی ده، رسما تری نه وغواړی. پدی خبره باندی له ما اویو څو د ګوتو په شمیر کسانو پرته چی پدغه پست کی یی کار کړیدی نور کسان خبر ندی. هیله ده د کانو او صنایعو وزارت و اړوندو اسنادو ته د لاسرسی په موخه دا امکان په پام کی ولری.**

دویمه خبره چی د پنتاګون په راپور کی پر ځای نه ښکاری هغه داده چی د افغانستان د معدنی زیرمو د یادولو سرچینه دوی پخپل راپور کی همدغه دشوروی کارپوهانو لخوا لیکل شوی راپورونه یاد کړیدی. داځکه چی ددغو راپورونو ډیره برخه د بیلابیلو سیمو د جیولوجیکی څرنګوالی او جیولوجیکی نقشو په هکله دی نه د معدنو د زیرمو. د یادونی وړده چی دمعدن د پیداکولو لومړی مرحله د سیمی د جیولوجیکی نقشی اخیستل دی. د جیولوخیکی نقشی پر مخ دځمکی دقشر داخلی جوړښت، د طبقو ( لایو ) شکل، دتیږو منرالی ترکیب، دهغوی عمر او د مځته راتلو منشا او نور اړین معلومات ښودل کیږی. د همدغی نقشی له مخی یو جیولوجست کارپوه کولای شی په بیلابیلو سیمو کی د بیلابیلو معدنو دشتون اټکل وکړی اوبیا هلته ولاړشی، خپله پوهه او د پیداکولو متودونه په کار واچوی چی دا بیا دکار دویمه مرحله ګڼل کیږی. که معدن پیداشو نو دریمه مرحله یی به اړوندو متودونو سره د کان د زیرمی محاسبه او دمقدار تثبیت کول دی. په څلورمه مرحله کی باید د کان تخنیکی– اقتصادی څیړنی تر سره شی. پنځمه مرحله د کانی موادو راایستل دی چی کیدلای شی مارکیټنګ یی شپږمه مرحله و بولو. تر ۱۹۸۰ کال پوری دافغانستان ټوله ځمکه د یو پر پنځه سوه زره (۱/ ۵۰۰۰۰۰) په مقیاس جیولوجیکی نقشی و پوښل چی دا دهغه وخت یوه ډیره ستره لاسته راوړنه وه، داځکه چی تر دغه وخته پوری د افغانستان ګاونډیانو لکه ایران، پاکستان او هند دخپل ټول قلمرو د پاره پدغه مقیاس جیولوجیکی نقشه نه درلوده. په ۱۹۸۰ کال په پاریس کی د جیولوجستانو په نړیوال کانګرس ما دافغانستان د استازی په توګه دغه نقشه په ډیر ویاړ سره وړاندی کړه چی ګډونوالو ته په نه منونکی ډول په زړه پوری وګرځیده ځکه دوی په افغانستان غوندی وروسته پاته هیوادکی د داسی یوی نقشی درلودلو فکر هم نشو کولای . دنوموړی نقشی سره یوځای د ټول هیواد د ځمکی په کچه دکانو نقشه هم له چاپه را ووتل چی هغه دمحرمو اسنادو په ډله کی راوستل او د پاریس کانګرس ته می له ځانه سره وانه خیستل خو پخپلو څرګندونو کی دهغی دشتون یادوونه وکړه. دکانو دنقشی دا مقیاس که دټول هیواد په کچه لوی مقیاس دی خو دیوه ځانګړی معدن د څیړلو د پاره ډیر وړوکی او کافی ندی . معدنی سیمه باید لدی نه په ډیر لوی مقیاس سره یعنی د یو پرلس زره (۱/۱۰۰۰۰) څخه تر یو پر زر (۱/ ۱۰۰۰) مقیاس پوری و څیړل شی چی کله کله لا لدی هم و لوی مقیاس ته اړتیا لیدل کیږی. ددغو دوو نقشو سره زما ډیری خاطری تړلی دی چی کاشکی یی د یادولو موقع یو وخت پلاس راشی . تیرکال ما د محترم عزیزالله کهګدای دیوی لیکنی په اړه دافغانستان د جیولوجیکی نقشی په باره کی یو لړ اړین معلوماتونه لیکلی دی چی مینه وال کولای شی د افغان – جرمن پورتال د لاری یی زما په ارشیف کی و لولی.

تر ټولو د خوښۍ خبره داده چی د لوړی نقشی له مخی د پنتاګون په راپور کی د یادو شوو کانو په ګډون د مندلیف د دوره ای جدول د نژدی ټولو عناصرو شتون څرګند شوی دی. که څه هم پخپله داکار په راتلونکی کی د هیواد د اقتصادی لوړ پوټنشیال یو نیکمرغه زیری دی، خو د معدن په توګه ددغو ټولو عناصرو یادول لا تر اوسه د وخت نه وړاندی خبره ده. راشی وګورو چی **معدن** څه ته وایی او ایا دهر عنصر ښکاره کیدل د معدن د شتون مانا ورکوی؟ دافغانستان دمعدنی زیرمو په قانون کی چی د جوړولو مشری یی اصلا زما پر غاړه وه ، معدن ( که څه هم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داګړی زما ټکی په ټکی په یاد ندی ) په ټولیز ډول داسی تعریف شوی وو: **معدن د اړتیا وړ منرالونو او تیږو (ډبرو) هغه شتون دی چی په طبعی ډول د ځمکی دقشر په یوه برخه کی سره راغونډ شوی اود بشپړ مقدار کچه یی دومره وی چی په اقتصادی لحاظ د رااېستلو ( استخراج ) په لګښتونو و ارزی.** که څه هم نوموړی قانون اوس دافغانستان د تقنینی دود سره په نا انډول ډول نوی شویدی خو دغه په ټولیزه توګه د معدن علمی تعریف دی چی هیڅوک پخپل سر بدلون نشی ور کولای. د لوړ تعریف له مخی د هر عنصر شتون که هر څومره قیمتی هم وی که دلوړ تعریف سره سر ونه خوری، معدن ګڼلای نشو. دبیلګی په توګه که په یوه پراخه سیمه کی د سرو زرو سل ټنه زیرمه پرته وی او تخنیکی– اقتصادی ځیړنی یی و ښیی چی د اوسنی تخنیک د امکاناتو په مټ ددغو سلو ټنو سرو زرو د را ایستلو پر چارو باندی دومره لګښت راځی چی دغه سل ټنه تر لاسه شوی طلا یی هم جبرانولای نشی نو دغه طلایی لویه زیرمه هم د اوس دپاره معدن ندی.

تر هغه ځایه چی زما په یاد دی د اتیایمو کلنو تر پیل ( دشوروی اشغال ) پوری د هیواد په شمال کی د لاجوردو، ګازو، تیلو، د خوړو مالګی، ډبری سکارو، یولړ ساختمانی موادو اویو شمیر نورو وړو کانو صنعتی زیرمی، په لویدیز کی دهرات د مرمر او رخامو، په مرکز کی د حاجیګک د اوسپنی دکان، په جنوبی او ختیزو سیمو کی د هلمند د یورانیمو (خانشین)، مرمرو او رخامو کانونه، د پنجشیر د زمرودو، د جګدلک د یاقوتو، د ماماخیل (ننګرهار) د تالک، د لوګر دکرومایټ، د زر کشان (غزنی) د طلا کان زیرمی تثبیت شوی وی. دعینک دمسو دکان د زیرمو ډیره برخه داشغال په کلنو کی محاسبه او تثبیت شوه. دنوموړو کانو له ډلی نه د حاجیګک د اوسپنی کان د اسیا تر ټولو لوی او په نړی کی د لومړیو لویو په کتار کی او دعینک دمسو کان دنړی د څلورو سترو کانو په کتار کی پروت دی. د ګازو زیرمی ستری دی، د ډبرو سکارو زیرمی د هیواد د اړتیاوو بسنه کوی او دتیلو زیرمو د اویایمو کلنو په کچه د اړتیاوو یوازی ۱۷ ٪ پوره کولای شوه چی ډیری لږ وی او رااېستلو ته یی لا تصمیم نه وو نیول سوی، دتیلو اوسنی اړتیاوی خو لا څو برابره زیاتی شویدی. لدی یاد شوو معدنو پرته یو لړ نور مواد هم دمعدن تر کچی پوری نژدی ځیړل شوی وه چی په راپورونو کی مو دمعدن پنامه یادول. د بیلګی په توګه : د نورستان بیروج ، د غور سرب، سیماب او جست، دغوربند بیرایټ، دهرات د ډبرو سکاره، مس، قلعی، ګچ، مالګه او بیرایټ، د ارزګان فلورایټ او شاه مقصود، د بدخشان اوسپنه او طلا، دلوګر ازبست او په دربند کی مس، د زابل مس او المونیم، د کندهار په دره نور کی سرب او جست او په خاکریزکی طلا، د فراه قلعی، د کنړ بیریل، دبلخ په البرز کی سلفر، د ماهیپر شامقصود، د خوست کرومایټ، دپکتیا په میرزکه کی طلا او یو لړ نور واړه معدنونه چی ارزښت یی دیادونی وړ نه وو. لکه څنګه چی می لوړ یاده کړه تر اشغال وروسته هیواد د جنګ د اور په لمبو کی کړیدی ، نه یوازی داچی کوم بل نوی کان کشف نشو، پر پخوانیو کشف شوو معدنو باندی هم کار کول بند شول.

د پنتاګون په راپور کی د هیواد دجنوبی سیمو د معدنی زیرمو ارزښت یو میلیارډ ډالره ښودل شویدی . مګر دافغانستان دکانو او صنایعو وزیر بیا دهیواد دمعدنی زیرمو ارزښت دری زره میلیارډه ډالره وښود. زما په اند دا دواړه رقمونه دقیق ندی، دا ځکه چی : ۱– د ټولو کشف شوو عناصرو شتون لاتر اوسه د معدن نومولو تر کچی ځیړل شوی ندی. ۲– ددغو معدنو زیرمی تر داګړیه په دقیق ډول محاسبه شوی ندی . ۳– پر نوموړو معدنو باندی تخنیکی – اقتصادی ځیړنی تر سره شوی ندی. زه په دی باور یم چی که و اړوندو معدنی موادو ته د نړی په کچه مخ پرزیاتیدونکی اړتیا، د قیمتونو ورځ تر بلی جګوالی، داستخراجی تخنیک مخ پر ودی بدلون او داسی نوری چاری په پام کی ونیولی شی، نو په تاکید سره ویلای شم چی ارزښت یی له درو زرو میلیارډ ډالرو څخه هم لوړ دی. دا ځکه لکه وړاندی چی می یاده کړه دافغانستان د جیولوجیکی نقشی له مخی ددغی خاوری ترځکمی لاندی جوړښت لوړ معدن زیږونکی پوتنشیال لری. که چیری داپوتنشیال د نوی پرمخ تللی تخنیک په مټ و ځیړل شی، احتمالی موجود معدنونه کشف او د کشف شوو کانو د زیرمو په محاسبه کی پرمختللی تکنالوژی وکارول شی او ترلاسه شوی پانګه یی د اولس د سوکالی په موخه د علمی پلانونو سره سم په کار واچوله شی، نو بیله شکه افغانانو ته د ځمکی پرمخ دجنت خوبونه رښتیا کیدلای شی . خو تر دی ګړیه پوری می د بده مرغه د وطنپال شاعر او پیاوړی دیپلومات عبدالرحمن پژواک داشعر د ذهن پر مزو ټالونه وهی :

**دا وطن دکومی پیغلی تور اوربل دی چی باد لا وهلی نه وی تارومار شی**

د امریکایانو په راپور کی دیاد شوو کانو د ذخیرو د محاسبی په اړه باید ووایم چی درسنیو دمعلوماتو له مخی امریکایی کارپوهانو د شوروی جیولوجستانو لخوا دلیکل شوو راپورونو تر لوستلو وروسته پر ډیرو اړوند سیمو باندی ځیړنی دالوتکو په مټ له هوا څخه ترسره او بیا یی پرمختللی تکنالوژی د هوا څخه په کار واچول او دغه معدنونه یی په دری اړه خیز (سه بعدی) ډول وځیړل. ښایی د پنتاګون لخوا خپور شوی راپور به د همدغو وروستیو ځیړنو پایله وی. پدی کی هیڅ شک نشته چی ددی ډول ځیړنو دلاری د معدنو په هکله ډیر اړین معلومات تر لاسه کیدلای شی مګر تر هغه ځایه چی زه د جیولوجی دیوه شاګرد (جیولوجی ډیر ژور او پراخ علم دی) په توګه پوهیږم دغه ځیړنی سره لدی چی اړینی دی خو بشپړی او کافی ندی. دمعدن د زیرمو دقیقه محاسبه لدی ټولو برسیره و ځای پر ځای نیغ په نیغه کار، کیندنو او حتی برمه کاریو ته اړتیالری چی داکار لا تر سره شوی ندی. که زیرمی په علمی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

متودونو سره دقیقی محاسبه نشی نویی مقدار یوازی اټکلی ښه غوره کوی او پانګوال پر اټکلی زیرمو باندی و پانګی اچونی ته په ډاډمنه توګه زړه ښه کولای نشی.

دا وی هغه څو اړینی خبری چی د پنتاګون د راپور سره یی تړاو درلود. اوس به را شو پخپله دافغانستان دمعدنو په اړه دعام پوهاوی وړ لنډ معلومات ته. معدنونه دبیلابیلو پرنسیپونو له مخی پر ګټیګوریو یا ډولونو ویشل کیږی ، د بیلګی په توګه د پیداکیدو دمنشا له مخی، د کارولو د اړتیا له مخی او داسی نور . دمعدنو منشا ژور علمی بحث دی او لدی مسلک نه بهر کسانو دپاره د پوهیدو وړ ندی ځکه نو غواړم دهیواد معدنونه و دوی ته د اړتیاوو د څرنګوالی له مخی لوستونکو ته په لاندی ډول ور وپیژنم :
د دویمی برخی پای . نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ